## ۱. عمومیات

### ۱. ۱. د کرنې پوهنځی لنډه پیژندنه:

د کرنې یا Agriculture کلمه دلاتین ژبې له دوه کلمو ( Ager )یا(Agri ) او (Culture) څخه اخیستل شویده چې (Ager) یا (Agri ) د خاورې یا ځمکي اوCulture دکرنې یا کرلو معنی لري نو ځکه Agriculture پر ځمکي د کرلو په معنی سره دی، کرنه یوه پراخه اصطلاح ده چې د نباتي تولیداتو، مالداری، کب روزنې او داسي نور اړخونه ترخپل پوښښ لاندي راولي. یاپه بل عبارت کرنه هغه پراخ کسب یا مسلک دی چې پوسیله یې نباتي او حیواني محصولات لاسته راځي او د انسانانو د ګټې وړ ګرځي. او یا هم کرنه د ځمکي د طبیعي زیرمو څخه د نباتاتو او حیواناتو د تولید پوهي ته راجع کیږي، د Agriculture اصلي موخه له یوي ټوټې ځمکي څخه د زیات حاصل لاسته راوړل او په عین وخت کې د هغې له تخریب او بې ځایه استعمال څخه مخنیوی کول دي. د غزني پوهنتون دکرنې پوهنځی په ۱۳۸۷ کال کې د هارتیکلچر او اګرانومي څانګو په لرلو سره تأسیس شوه او خپلې اړوند تدریسي او اداري چاري یې د شپږ تنو استادانو په لرلو سره راپیل کړې. په( ۱۳۸۹) کال کې یې د پورته دوه تحصیلي څانګو تر څنګ د کرنیز اقتصاد او پراختیا څانګه هم رامنځته کړه. د تأسیس له نیټې څخه تر دې دمه یې د ګڼو اقتصادي، سیاسي، ټولنیزو او امنیتي ننګونو سربیره د هیواد د ځوان کهول د سمې روزنې لړۍ جاري ساتلي او له یادو دریو څانګو څخه یې سلګونه په نویو مسلکي پوهو او څانګړو مهارتونو سمبال ځوانان فارغ او ټولنې ته وړاندي کړي دي. غزني پوهنتون تر (۱۳۹۱) کال پوري د خپلو تدریسي، اداري او نورو اړوند چارو لپاره کوم ځانګړي ملکیت نه درلود او خپله اړونده چاري یې په کرایي ملکیتونو کې مخته وړلې تر دې چې په (۱۳۹۱) کال کې د خپل ملکیت څښتن او اوسني کامپلکس ته راانتقال شو. کرنې پوهنځی د اړوند تعمیر سربیره چې تدریسي او اداري چارې پکې مخته وړې کرنیز فارم هم لري. غزني پوهنتون کرنې پوهنځی د هیواد له بیلابیلو ولایتونو څخه (۴۱۲) تنه محصلین او(۲۱ ) تنه برحال استادان، اداري او خدماتي کارکوونکي لري. د یادي پوهنځی د دری واړه څانګو محصلین څلور لومړني سمسترونه د کرنې اړوند عمومي زده کړې کوي او وروسته له هغه پاتي څلور سمسترونه په اړوندو اختصاصي څانګو کې لولي.

د غزنی پوهنتون دمنظور شوی ستراتیژیک پلان په اساس د کرنی پوهنځی ستراتیژیک پلان کمیټې تصمیم ونیو چی ۱۳۹۸ تر ۱۴۰۲ کال پوری ترتیب کړی،د ستراتیژیک پلان څخه بغیر د پوهنځی علمی او اداری چاری په یو نامعلومه لوری حرکت کوی نو په همدی اساس ستراتیژیک پلان اړین شمیرل کړی تر څو علمی او اداری چاری په یو معلوم او مطلوب لوری حرکت ور کړی.

**۱. جدول: د کرنې پوهنځي موجوده استادان، د هغوی تحصیلي درجه او علمي رتبې.**

| شماره | د استاد نوم | تحصیلي درجه | علمي رتبه |
|---|---|---|---|
| ۱ | محمد عمر درویش | ماستر | پوهنمل |
| ۲ | حبیب الله همایون | ماستر | پوهنمل |
| ۳ | محمد مهدی صمیم | ماستر | پوهنمل |
| ۴ | محمود همت | د ماستري زده کړو په جریان کې | پوهنیار |
| ۵ | احمد جاوید احساس | ماستر | پوهنیار |
| ۶ | محمد امین عمری | د دوکتورا زده کړو په جریان کې | پوهنیار |
| ۷ | محمد نعیم جلالی | ماستر | پوهنیار |
| ۸ | شفیق الله رحمانی | دوکتور | پوهنیار |
| ۹ | سید رحیم غفاری | ماستر | پوهنیار |
| ۱۰ | محمد مسعود نیکنام | ماستر | پوهنیار |
| ۱۱ | غلام معروف فقیری | د ماستري زده کړو په جریان کې | پوهنیار |
| ۱۲ | حبیب الله فیضی | ماستر | پوهنیار |
| ۱۳ | احسان الله اکرمزی | ماستر | پوهنیار |
| ۱۴ | حشمت الله سایس | ماستر | پوهنیار |
| ۱۵ | سید رحمن صمیمی | د ماستري زده کړو په جریان کې | پوهیالی |
| ۱۶ | روح الله کمال | د ماستري زده کړو په جریان کې | پوهیالی |
| ۱۷ | عبدالواسع تاج زاده | لیسانس | پوهیالی |
| ۱۸ | فضل محمد محمدی | د ماستري زده کړو په جریان کې | پوهیالی |
| ۱۹ | میرزامحمد مدثر | د ماستري زده کړو په جریان کې | پوهیالی |
| ۲۰ | نجیب الله ابراهیمی | ماستر | پوهنیار |
| ۲۱ | عبدالمتین میانې | د ماستري زده کړوپه جریان کې | پوهیالی |

**۲- جدول: د غزني پوهنتون د کرنې پوهنځي ۱۳۹۳- ۱۳۹۷ل.ل کلونو د محصلینو د احصایي جدول.**

| کال | څانګه | ذکور | اناث | کتني |
|---|---|---|---|---|
| ۱۳۹۳ | باغداري | ۵۰ | ۱۶ | |
| | اګرانومي | ۵۰ | ۱۶ | |
| | کرنیز اقتصاد او پراختیا | ۵۰ | ۱۶ | |
| ۱۳۹۴ | باغداري | ۵۰ | ۲۲ | |
| | اګرانومي | ۵۰ | ۲۲ | |
| | کرنیز اقتصاد او پراختیا | ۵۰ | ۲۳ | |
| ۱۳۹۵ | باغداري | ۴۰ | ۱۶ | |
| | اګرانومي | ۴۰ | ۱۶ | |
| | کرنیز اقتصاد او پراختیا | ۴۰ | ۱۶ | |
| ۱۳۹۶ | باغداري | ۴۰ | ۲۱ | |
| | اګرانومي | ۴۰ | ۲۱ | |
| | کرنیز اقتصاد او پراختیا | ۴۰ | ۲۲ | |
| ۱۳۹۷ | باغداري | ۵۰ | ۱۷ | |
| | اګرانومي | ۵۰ | ۱۷ | |
| | کرنیز اقتصاد او پراختیا | ۵۰ | ۱۸ | |

## ۱. ۲. کلیدي ستراتیژیک موضوعات (Key Strategic Statements)

۱. د غزني پوهنتون د کرنې پوهنځی د خپل پرمختګ له پاره د باندنیو پوهنتونونود کرنې پوهنځیو نوښتونو او پرمختګ د ځان له پاره سرمشق بولي .هره اداره یوه مطلوب حالت ته د رسېدو له پاره د پرمختګ هڅې کوي . د کرنې پوهنځی هم په هیواد کې د نورو پوهنتونونه د کرنې پوهنځي دځان له پاره ایډیال ګرځولي دي او هڅه کوي چې د هغوی تجربې او بریاوې د خپل ځان له پاره سرمشق وګرځوي.

۲. دکرنې پوهنځی بې پرې مشرتوب د دې سبب ګرځېدلی دئ چې د تحصیلي او علمي خدماتو په برخو کې دغه پوهنځی حیرانوونکي فعالیتونه او پرمختګونه وکړي .له نېکه مرغه، دغه مشرتوب او مدیریت د کرنې پوهنځي له ګوندیتوب، سیاسي ډلبازیو، ژبنیو تعصبونو، قومپالنې او نورو ټولنیزو ناروغیو څخه خوندي ساتلی دئ.

۳. د کیفیت د لوړاوي د پروسې څخه د پوهنځی د ټولو کارکوونکو پوره پوهاوی، د دغه پوهنځی بل ستراتیژیک محور دئ .په هره اداره کې د کیفیت لوړاوی د هغې پرمختګ او ظرفیت لوړ ونه تضمینوي.

۴. په پو هنځی کی د ځوانو استادانو شتون او له پوهنځی سره د هغوی پیاوړې ژمنه د دغه بنسټ بل مهم ستراتیژیک اړخ دئ. واضح ده چې په یوه اد ره کې د ځوانانو موجودیت د هغې اداري په چارو کې د چټکوالي، نوښت او ګډ کار روحیه رامنځته کوي .ځوانان د فکري او جسمي پلوه پیاوړي دي او د خپلو مسولیتونو او صلاحیتونو په پېژندلو او عملي کولو کې تل مخکښ وي.

۵. د کرنې پوهنځی د کرنیزفارم د پرمختیا له پاره پراخه ساحه په اختیار کې لري . چې د اړوندي ساحه به د ماستر پلان مطابق دفارم لپاره فعاله او هم به د کرنیزو تجربود پلي کولو لپاره د نورو تخنیکي اصولو په نظر کې نیولو سره چمتو شي.

## ۱. ۳. د ستراتیژیک پلان د جوړوني اړتیا

د تیرو څلورو لسیزو د جګړو د هر اړخیزه ورانیو د بیا رغاوني هوډ، ټولني ته د وړ او مسلکي کادرونو د وړاندي کولو اړتیا، د لوړو زده کړو په لیوالتیا او د ښوونځیو د فارغینو په شمېر کې بې ساری ډېرښت، د دولت له لو ري د مالي او تحصیلي امکاناتو محدودیت، د محصلانو په ذهنیتونو او غوښتنو کې چټک بدلون او د اسلامي او افغاني کلتوري ارزښتونو په خوندیتوب سره له نورو ملي او سیمه ییزو پوهنتونونو سره د سیال کیدو اړتیا او داسي نورو مسایلو، د غزني پوهنتون د کرنې پوهنځی دې ته اړ کړ تر څو یو هر اړخیز پنځه کلن ( ۱۳۹۸– ۱۴۰۲) ستراتژیک پلان چمتو او پورتنیو اړتیاوو ته ځواب ووائي .له بلي خوا پوهنځی د یوې مشخصې تګ لاري او انکشاف له پاره یوه تعریف شوی او هر اړخېزه سنجول شوي ستراتیژي ته اړتیا ده چې له مخي به ئې راتلونکي انکشافي چارې پر مخ وړل کیږي. یو ښه ستراتیژیک پلان کولای شي د پوهنځي په هر اړخیزه پراختیا کې مثبت رول ولوبوي .د همدې پلانونو په رڼا کې یو بنسټ کولای سي د امکاناتو په پام کې نیولو سره خپله راتلونکې په خپله وټاکي او له ناڅاپي ربړو او کړاوونو او ننګونو سره د مبارزې له پاره چمتوالی ولري.

د دغه پلان له مخې به کرنې پوهنځی وتوانیږي چې د خپلو اکاډمیکو آسانتیاوو پراختیا، او بنسټیزو ستونزو ته د حل لارو لټول، دمحصولاتو ډېرښت ته چمتو والی نیول او د استادانو او کارکونکو د ظرفیت لوړول په ښه او اغیزمن ډول پلان کړي.

## ۱. ۴. د ستراتیژیک پلان د جوړوني کړنلاره:

### الف - کړنلاره:

په لومړي سر کې د کرنې پوهنځی علمي شورای د ستراتیژیک پلان کمیټه تأسیس کړه. ستراتیژیک پلان کمیټه دکرنې پوهنځی دریيس سربیره د بیلابیلو څانګو آمرین او د پوهنځی نور غړي وټاکل شول.یادې کمیټې د دې پلان د جوړېدو له پاره وخت په وخت غونډې دایرې کړې. چې د کمیټې د غړو په واسطه لومړی دغزني پوهنتون پنځه کلن ستراتیژیک پلان په دقیقه بڼه تحلیل، .همدا ډول

د یادو غړو په مرسته د ستراتیژیک پلان په جوړولو کې د ښې پوهې او تجربه لرونکو خلګو، دکرنې پوهنځی له نورواستادانو او محصلانو سره صلاح مشوري شوي او د هغوی وړاندیزونه او نظریات راټول شوي دي .وروسته، د کرنې پوهنځی د ستراتیژیک پلان کمیټې دنوبتي غونډو د دایرولو په ترڅ کې د دغو وړاندیزونو او نظرونو تجزیه، تحلیل او پر هغو هراړخیزبحث شوی. چې د دغو بحثونو ټولو ګډونوالو نظریاتو او افکارو ته په درنښت سره مطلوب تصمیمونهونیول شول. د یادوني وړ ده کله چې د ستراتیژیک پلان مسوده ترتیب شوه نو په ترتیب سره د کرنې پوهنځی او پوهنتون په علمي شوراګانو کې طرح او تصویب شوه.

**ب – تطبیق او څارنه:**

د ستراتیژیک پلان له ترتیب او تصویب وروسته د پوهنځی د ستراتیژیک پلان د جوړولو کمیټه د تصویب شوي ستراتیژیک پلان دکړنو د څارلو وظیفه هم لري .دا کمیټه د کال په هرو دریو میاشتو( ربع ) او د هر کال په پای کې د کړنو، پرمختګونو او په تطبیق کې د خنډونو راپور د پوهنځی علمي شورای ته وړاندي کوي.

## ۱. ۵. ستراتیژیک اهداف (Strategic Goals):

د دغه ستراتیژیک پلان موخه د کرنې پوهنځی د تدریسي، څیړنیزو، اداري او خدماتي پروسو ښه والي او پراختیا ده، تر څو وړ مسلکي مهارت لرونکي وګړي، باکیفیته څیړنیز خدمات او اغیزمنې سپارښتنې ټولنې ته وړاندي او د هیواد د هر اړخیزې پرمختیا له بهیر سره په خپله برخه کې مرسته وکړي. پورتنی موخي د لاندي ستراتیژیکو اهدافو په لاسته راوړلو تر لاسه کیږي:

1. د کادري او اداري کارکوونکو ظرفیت لوړول او د کیفیت لوړاوي اعتبار تر لاسه کول
2. د ټولنې د اړتیاوو سره سم د اګرو بزنس، حیواني علومو او نباتاتو ساتني څانګو رامنځته کول
3. د ګلخانو او قوریو احداث
4. د کرنیز فارم پراختیا
5. د ټولنې اړتیاوو ته په کتو د معیاري زده کړو او باکیفیته څیړنو لپاره د وړ چاپیریال چمتو کول
6. د کرنې په برخه کې د باکیفیته علمي څیړنو لپاره د اسانتیاوو او امکاناتو برابرول.
7. د علمي څیړنو او نوښتونو عامیدنه
8. د تدریسي پروسې د کیفیت لوړول
9. د هیواد کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون او د هیواد د پنځو معتبرو پوهنتونونو سره د همکاري تفاهم لیک لاسلیکول

## ۱. ۶. لرلید (Vision):

د کرنې پوهنځی په پام کې لري، چې د څیړني او تدریس په ډګر کې وړ خدمات د شته امکاناتو ته په پام سره ټولني ته وړاندې کړي.

## ۱. ۷. ماموریت (Mission):

د غزني پوهنتون د کرنې پوهنځی د هیواد په کچه یو علمي بنسټ دی، چې له شته فرصتونو او امکاناتو څخه په ګټه اخیستنې سره مسلکي کادرونو په تربیه کې فعاله ونډه واخلي.

## ۱. ۸ ارزښتونه (Values):

1. ملي ارزښتونو او باورونو ته ژمنتیا او د هغو پالنه
2. روڼتیا او حساب ورکونه
3. د کیفیت لوړاوی او د کمیت پراخیدنه
4. د عدالت، ژمنتیا، نوښت، هڅونې او لاربښوونې کلتور دودونه
5. مسلکیتوب او اعتبار ترلاسه کونه
6. ریښتینولي او د مدیریت اغیزمنونه

## ۱. ۹. د کرنې پوهنځی د SWOT تحلیل (۳-جدول)

| | |
|---|---|
| د پیاوړتیا ټکې (Strengths) | • د کرنې پوهنځي د علمي کادر د ټولو غړو، اداري کارکونکو او د څانګو د آمرینو ترمنځ په بشپړه توګه همغږي.<br>• د لوړو تحصیلی درجو او ځوانو علمي کادر غړیو درلودل.<br>• د تدریس د نوي میتودونو پر مټ علمي کادر غړیو لخوا تدریسي بهیر پرمخ وړل<br>• د باکفایته درسي پلانونه او پروګرامونه شتون.<br>• په ټولنه کې ښه شهرت اواعتبار.<br>• د کرنې په برخه کې د علمي څیړنو د ترسره کولو لپاره د پراخه کرنیزي څیړنیزی ساحې شتون.<br>• د لوړو زده کړو د مؤسساتو سره د علمي او تحقیقي اړیکو د ایجاد ظرفیت.<br>• د انګلیسي او نورو بهرنیو ژبو سره د ډیرو استادانو او داداري کارمندانو بلدتیا. |
| د کمزورتیا ټکې Weakness (W) | • په ټوله کې د دوکتورا په کچه د علمي کادر د غړو د شمیر کموالی.<br>• د تدریسي مجهزو خونو ( په پروجیکتور او نورو اړوندو وسایلو د سمبال ټولګیو) کمبود.<br>• د کرنې پوهنځي په سطحه د کتابتون نشتوالی<br>• د برق او انترنیت ستونزي<br>• د لابراتوار نشتوالی<br>• د څیړنیزفارم لپاره د ځانګړي شوی ساحي ناهمواري او د فارم د وسایلو نشتون<br>• د فارم ساحی د پاره د اوبو منابعو او حاصلخیزي خاورې نه شتون .<br>• داستادانولپاره دکافي دفترونونشتوالی<br>• د کرنې د علمي مجلې نشتوالی<br>• کمپیوتر لیب نشون |

| | |
|---|---|
| فرصتونه(O) Opportunities: | • له لوړو زده کړو سره د ځوان نسل لیوالتیا<br>• د پوهنتون او ولایت په سطحه د نورو همکارو ادارو او موسساتو سره همغږي.<br>• د علمي کادر دغړو دپاره دلوړو زده کړو وزارت له خواد تحصیلي سویې لوړولو لپاره دسکالر شپونواو فیلوشیپونو د اسانتیاو شتوالی.<br>• دپوهنتونو او نورو ادارو سره د متقابلو همکاریو درلودل .<br>• په نړیواله او ملی سطحه د کرنې په برخه کې دسیستمونو چټک پرمختګ<br>• د کرنې پوهنځي د محصلینو لپاره غوره کاري فرصتونه په دولتی او غیر دولتی ادارو کی . |
| ګواښونه (T) Threats: | • په ټوله کې د ډاډ من امنیت نشتون.<br>• د ښځینه محصلینو لپاره د ناوړه ټولنیزو دودونو له امله د ستونزو شتون.<br>• د څیړنیزم فارم لپاره د بودیجې نشتوالی<br>• د کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې د اداراتو تر منځ نه همغږي.<br>• په ټوله کې د معارف د زده کوونکو د سویې ټیټوالی او پوهنتونونو ته د ټیټې سویې شاګردانو معرفي کیدل.<br>• د ظرفیت ته په پام کې نه نیولو سره د ازموینو د ملي اداري لخوا د زیات شمیر محصلینو معرفي کیدل.<br>• د داخلي دولتي او غیر دولتي کرنیزو ادارو سره په رسمي ډول سره د توامیت نشتوالی. |

**دپورتني تحلیل خلاصه**

د کرنې پوهنځی پورتني تحلیل او ستراتیژیک پلان ته په پام سره خپله ستراتیژي او تګلاره په لاندې ډول خلاصه کوي:

د پیاوړتیا د هغه ټکو (Strengths (S څخه چې پوهنځی یې لري د شته فرصتونو (Opportunities (O څخه په اعظمي استفاده سره به د کرنې پوهنځی وکولای شي ترڅو هغه کمزورتیاوي (Weakness (W چې شتون لري او هغه ګواښونه Threats (T) چې پوهنځی ته متوجې دي له مینځه یوسې او وکولای به شي چې یوه سالمه پرمختللي او په تکنالوژۍ سمباله اداره رامنځته او د وخت غوښتنو ته به ځواب ووائي.

## ۲. مدیریتي برنامي

### ۲. ۱. رهبري

د کرنې پوهنځی  د رهبرئ په راس کې د کرنې پوهځی رئیس او د څانګو آمرین قرار لري چې دغه پوهنځی د خپلو ټولو کړنو په برخه کې د لوړو زده کړو وزارت او د هېواد نافذه قوانین، پالیسی، مقرري او لوايح رعايتوي. او ترڅنګ يې د راتلونکی لپاره د په لازمو برخو کې خپل وړاندیزونه اړونده مراجعو ته لیږي. تر څو د لابهبود سبب وګرځي. د پوهنځی د کارونو د ښه پرمختګ په موخه به د کرنې پوهنځی رئیس په دوامداره توګه د پوهنځی د اړوندو څانګو د آمرینو او د هغوی د کادري غړو له هر ډول چارو څخه څارنه کوي څو یقیني کړي، چې اړونده چارې په اغېزمن ډول پرمخ رواني دي. سربیره په دې به د کرنې پوهنځی رهبري، استادان او نور پرسونل د خپلمنځي همکاري او همغږي د پراختیا او پوهنتون د نورو پوهنځیو او ښکیلو اړخونو سره د ښو کاري اړیکو، همکاري او همغږي د ودې لپاره کوټلي ګامونه پورته کوي. د څانګو آمرین په خپل وار د پوهنځی رئیس، د پوهنتون علمي مرستیال او د پوهنتون رئیس ته ځواب ویونکي دي.

### ۲. ۲.  د فساد پر وړاندې مبارزه

د علمي او اداري کړنو په پرمختګ کې د شفافیت مراعت کول او حساب ورکونه او له هر ډول فساد سره مبارزه د کرنې پوهنځی له مهمو او بنسټیزو ارزښتونو څخه شمیرل کیږي. د کرنې پوهنځی رهبري د ښه کاري سلوک تطبیق له فساد څخه لریوالی او د هغه په وړاندې مبارزه په ټولو برخو کې خپل رسالت ګڼي او د ټولو سره سره به د هغوی په وړاندې مقابله کوي او د چارو د بهبود لپاره د فساد مخنیوی ته لومړیتوب ورکوي. د کرنې پوهنځی په پام کې لري چې د خپلو اړوندو چارو په برخه کې د هر ډول فساد مخنیوي په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د اداري فساد مخنیوي اړوند ټولنیز پوهاوی
2. د لوړو زده کړو وزارت او غزني پوهنتون د مشرتابه تر سیوري لاندې د مقرراتو، لوایحو او قوانینو پلي کول او څارنه.
3. په کرنې پوهنځی کې د فساد اړوند مواردو معلومول او ورته حل لارې پیدا کول.
4. د مجازاتو او مکافاتو د اصل رایجول او پلي کول.
5. د هر ډول غیر قانوني کړنو مخنیوی کول.
6. د پوهنځی د علمي کادر غړیو د وحدت پر وړاندې د ستونزو او ننګونو له منځه وړل.
7. د هر ډول قومي، ژبني او داسي نورو تبعیضونو څخه مخنیوی کول.

د پورته کړنو د ښه ترسره کولو په مؤخه د پوهنځی په سطحه د کمیتی رامنځه ته کول چی یوه منظم کاری عملیاتی پلان په لرلو سره به د پوهنتون د رهبری سره په همغږی کارونه پرمخ وړی .

### ۲. ۳. اداري بیروکراسي

که څه هم اداري سلسله مراتب د اداري فساد په کموالی، له صلاحیتونو څخه د بده استفادي او اداري انارشیزم په کموالی کې ډیره مرسته کوي، ولي له بل پلوه د بیروکراسي سیستم یو وخت ګیر سیستم دی چې د وخت د ضایع کیدلو او نوښتونو د موانعو سبب کیږي، نو دنړیوال منل شوو بیروکراسی د اصولو څخه په ګټه اخېستلو سره د چارو سمبالښت او کارونو تر سره کول زمونږ د لومړیتوبونو څخه دي.  منفي بیروکراسي له سرچینو څخه د اغېزمنې ګټې اخیستنې او ټاکلو موخې ته د رسیدو پر وړاندې د بنسټیزو خنډونو له

جملې څخه ګټل کیږي، پر همدې اساس، د کرنې پوهنځی تل هڅه کوي چې د چارو د چټکتیا، روڼوالي او موثریت په موخه د منفي بیروکراسی د لمنځه وړولو لپاره لاندې کړنې ترسره کړي:

1. د معلوماتي ټکنالوژۍ پر مټ د پوهنځی چارې پر مخ وړل.
2. په اداري پروسو کې د غیر ضروري پړاوونو(Red type) لمنځه وړل
3. د اداري کړنو د روڼتیا په موخه د کمپیوټري پروګرامونو څخه ګټه اخېستل.
4. اداري چارو څخه څارنه او ارزونه
5. روزمره اړین او بیړنې اوامر د مکتوب او تحریر سر بیره په وینا او خبر ورکولو سره تر سره کول.

**۲. ۴. د عملیاتي پلان ترتیبول**

د ستراتېژیکو موخو لاسته راوړلو لپاره عملیاتي پلانونه د وخت او امکاناتو په نظر کې نیولو سره د مدیریت یو اساسي اصل تشکیلوي، چې چارې په ټاکل شویو وختونو کې په اغېزمنه توګه د مثبتو پایلو په لرلو سره ترسره شي. پر همدې اساس، د کرنې پوهنځی د چارو د ښه سمون لپاره اړینه بولي چې د ستراستژیکو موخو د ترلاسه کولو لپاره د هر تدریسي سمستر لپاره له ښکته څخه د پورته پلو په لوري یعني په ترتیب سره له استاده شروع بیا د څانګو ، تدریسي مدیریت د فارم مدیریت او په اخره کې د پوهنځی علمیاتي پلانونه ترتیب کړي چې د دغه عملیاتي پلانونو په ترتیب او تطبیق کې لاندې پړاوونه په پام کې نیول کیږي:

1. د عملیاتي پلان په جوړولو کې د ښکیلو خواوو شریکول
2. د عملیاتي پلانونو د ترتیب او تائید څخه ډاډ ترلاسه کول
3. د عملیاتي پلانونو د پلي کېدو او تطبیق څارنه
4. د پوهنځي د مربوطه اداري واحدونو د عملیاتي پلان د پلي کېدو شواهد راټولول او د یادو شواهدو پر اساس لازمې کړنې ترسره کول
5. عملیاتي پلانونو سره سم د اړوندو کړنو راپورونه ترتیب او وړاندې کول.
6. د عملیاتي پلانونو د نه اجراء شویو چارو لپاره د تدابیري پلانونو ترتیبول.
7. د عملیاتي پلانونو د اجراء لپاره د سرچینو او پاېلو په نښه کول
8. د اړونده خواو سره د تطبیق لپاره د پلانونو شریکول

**۲. ۵. د څارنې او ارزونې تر سره کول**

د اداري چارو او د تدریس له بهیر څخه څارنه او ارزونه د اداري او تدریسي چارو د ښه ترسراوي لپاره مهم اصل دی، چې له مخې یې له یوې خوا د تېروتنو او اشتباهاتو مخنیوی کیږي او له بلې خوا ډاډ ترسره کیږي، چې چارې په معیاري ډول له ترتیب شوو عملیاتي پلانونو سره سمې پر مخ روانې دي. پر همدې اساس، څارنه او ارزونه د شفافیت او باکیفیته تدریس رامنځته کولو او ستونزو د لمنځه وړلو لپاره مهمه کړنه شمېرل کیږي او د اداري او تدریسي چارو د پراختیا او پرمختګ سبب ګرځي د اداري او تدریسي چارو د څارنې او ارزونې په برخه کې به لاندې کړنې ترسره کیږي:

1. د پوهنځي رهبرۍ په کچه د چارو څخه لیدنه او تېروتنو د مخنیوي او سمون په موخه لازمې پرېکړې کول
2. د اداري کړنو په هکله له پوره دقت څخه کار اخستل

3. د اړونده دیپارتمنتونو او کمیټو څخه د هغوي د اجرااتو په هکله وخت په وخت راپورونه اخستل
4. د پوښتلیکونو له لاري له محصلینو څخه د اړوند استادانو د تدریس په اړه معلومات راټولول.
5. وخت په وخت د استادانو له درسي موادو څخه لیدنه.
6. د هر مضمون لپاره په استادانو باندې د کورس پالیسي او پلان درسي ترتیبول او د هغه څارنه
7. وخت په وخت له ټولګیو څخه لیدنه
8. د تدریسي چارو د ارزوني لپاره نور معیارونو ټاکل او تطبیق.
9. د کارونو د ښه ارزونی په مؤخه د لازمو کمیټو ایجادول .

**۲. ۶. د توامیتونو پراختیا**

د افغانستان اکادمیکې ادارې د اوسني شرایطو په پام کې نیولو سره دې ته اړې دي ترڅو د هیواد په کچه خپل فعالیتونه په سیستماتیک ډول سره یو بل سره همغږي کړي او همدارنګه له نړیوالو علمي او اکادمیکو ادارو، پوهنتونو او مؤسسو سره خپلې اړیکې پیاوړې کړي. چې په دي برخه کې مونږ کولای شو چې له دوه ټګلارو څخه ګټه پورته کړو د داخلي پرمختللو پوهنتونونو او د څیړنیزو مرکزونو سره دوه اړخیزه اړیکې ( پارتنرشیپ ) د پوهنځی د ورځنیو ستونزو د حل، د ګډ کارکولو لپاره د زمینې د مساعدولو او د هیواد دننه د پوهنتونونو سره د علمي اړیکو له لارې کولای شو نه یوازې د تجربو د شریکولو زمینه مساعدیږي بلکې د ظرفیتونو په لوړولو، د څیړنو په ترسره کولو او د نصاب د پراختیا انکشاف کې به مهمې لاسته راوړنې ولرو. د باندني پرمختللیو پوهنتونونو او د څیړنیزو مرکزونو سره دوه اړخیزه اړیکې ( پارتنرشیپ ) د نړۍ د پوهنتونونو سره د علمي اړیکو هغه اړتیا ده چې پوهنځي پراختیا او پرمختګ وکړي، ورځنیو هر اړخیزه ستونزو ته د حل لاره ومونډل شي. همدارنګه د پوهنتونونو او هیوادونو ترمنځ د ښې همکارۍ او دوستۍ اړیکې رامنځته کیدای شي، نو لدې امله له ملي او له سیمیزو ادارو او پوهنتونونو سره د کرنې پوهنځی د اړیکو جوړول او ساتل د دغه پوهنځی له اساسي او بنسټیزو ارزښتونو څخه شمیرل کیږي، چې په اوس وخت کې د کرنې پوهنځی سره د ناروي موسیسي د غزني ولایت سیمیز دفتر، د کرنې او اوبو لګونې وزارت د National Horticulture and Livestock Program (NHLP) دفتر، طراوات سبز موسسه، د غزنې ولایت د کرنې او اوبو لګوني ریاست او د غزنې ولایت د ښاروالی ریاست همکاري لري او په پلان کې ده چې د اوږده وخت له پاره د دغه همکاریو د جلب لپاره له یادو ادارو سره په رسمي ډول توامیتونه هم رامنځ ته شي. همدارنګه هڅه به وشي چې د نورو بیلابیلو ادارو سره تخصص او مسلک ته په پام سره توامیتونه رامنځته شي تر څو د دې لارې لازیاتې همغږې ته زمینه برابره شي. یادونه کیږی چی پورته یاد شوی کړني به د غزنی پوهنتون د رهبری او شته قوانینو په رڼا کی ترسره کیږی.

**۲. ۷. د مرستو جلبول**

پوهنځي په دوامداره توګه کوښښ کوي چې د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره د مختلفو ادارو او ارګانونو څخه مرستې راجلب کړي، ترڅو له دې لارې پوهنځي ته وده ورکړي، چې د پوهنځی د علمي شورای د پریکړې په اساس په دې برخه کې د مرستو د جلب او توامیت کمیټه رامنځته شوي، تر څو دغه کمیټه هڅه وکړی چې د ملي او محلی ادارو او موسیساتو همکاري راجلب او د هغوی سره د توامیتونو د لاسلیکولو زمینه برابره کړي.

**۲. ۸ د جنډر مسایل**

د کرنې پوهنځی خپل اصلي تعمیر ته د انتقال د وخت له پیل څخه تراوسه پوري په دې هڅه کې دی تر څو د محصلینو په ځانګړې توګه د ښځینه محصلینو لپاره یو ارام، مناسب چاپېریال رامنځته کړي، په داسي حال کې چې په لومړی سر کې په کرنې پوهنځی کې د ښځینه محصلینو ونډه ډیره کمه وه چې له کرنې پوهنځی څخه په ۱۳۹۴ کال کې یواځې یوه ښځینه محصله فارغ درلوده چې نن ورځ په کرنې پوهنځي کې د ښځینه محصلینو شمیر نږدې (۱۰) سلني ته رسیږي. او هڅه به وشي چې د ښځینو محصلینو ته د بیلابیلو سهولتونو په برابرلو سره به د هغوی ونډه نوره هم زیاته شي، ځکه د ټولنیز ژوند د پرمختګ او ټولنې هر اړخیزې ودې لپاره باید نارینه او ښځینه پرته له کوم تبعیض او امتیاز څخه د زده کړو په تر سره کولو کې فعاله ونډه اخلي. علاوه په دې د کرنې پوهنځی په پلان کې لري، چې په نورو علمي او اکاډمیکو او اداري چارو کې هم د نارینه وو تر څنګ ښځو ته هم مساوي ونډه ورکړي.د لوړو زده کړو د غوښتنی سره سم کرني پوهنځی هم هر کال پنځه سلنه د اناثو په تعداد کی د جذب څخه علاوه زیاتوالی راولی.

**۲. ۹. د پوهنځي د بودیجې زیاتوالی**

د کرنې پوهنځی د غزني پوهنتون د یو علمي بنسټ په توګه هوډ لري چې په علمي، اداري او فزیکي برخه کې پراختیا ومومي تر څو پوهنځی په راتلونکي کې د یو ښه علمي ډګر په توګه وکولای شي په اغیزمنه توګه خپل خدمات وړاندې کړي. اړینه ده چې د دغو چارو د ترسره کولو لپاره په خپله بودیجه کې په دوامداره توګه زیاتوالی رامنځته کړي، چې دې موخې ته د رسېدو په پار لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د مهارتونو او مسلکي پوهې د لوړتیا په پار د بهرنیو مرستو د جلب لپاره معیاري پروپوزلونو ترتیبول.
2. د کرنیز فارم د محصولاتو خرڅلاو د مالی استقلالیت په کتو سره.
3. د علمي کانفرانسونو او نورو برنامو په دایرولو سره.
4. د علمي نشراتو ترسره کول ( ژورنال ، علمی مجله) دلاری.

## ۳. علمي برنامې

### ۳. ۱. د علمي کادر په برخه کې د وړ او مسلکي کسانو په شمیر کې زیاتوالی

دا چې د یو علمي بنسټ په حیث د کرنې پوهنځي اصلي دنده د علمي کړنو او څیړنو ترسره کول دي نو د باکیفیته او پرمختللو علمي او څیړنیزو چارو د پیاوړتیا لپاره اړینه ده چې کافي شمیر د علمي کادر غړي شتون ولري. اوسمهال د کرنې پوهنځی په دریو بیلابیلو څانګو ( باغداري، اګرانومي او کرنیز اقتصاد) کې ۲۱ تنه د علمي کادر غړي او ۴۱۲ تنه محصلین لري او په راتلونکي پنځو کلونو کې د ۴- جدول مطابق د دوو نورو څانګو( د مالداري څانګه او جنګلاتو څانګه) او همدارنګه د باغداري اواګرانومي په څانګه کې د شپې پوهنځی د فعاله کولو پلان لري . چې په دې توګه به د محصلینو شمیر د اوسني شمیر په پرتله نږدې دوه چنده شي نو د دې لپاره چې د محصلینو د شمیر او د استادنو د شمیر ترمنځ یو مناسب تناسب رامنځته شي پوهنځی اړه ده چې د تدریسي، علمي او څیړنیزو چارو د پیاوړتیا او د کریکولم د ښه تطبیق په خاطر نوي علمي او مسلکي کادرونه د ۵- جدول مطابق د راتلونکو پنځو کلونو لپاره جذب کړي، او هڅه به وشي چې د لوړو زده کړو وزارت د قانون او مقرراتو سره سم به د نویو علمي کادر د غړو په جذبولو کې لاندې ټکي په پام کې ونیول شي:

1. د لوړو زده کړو وزارت قانون د تقرر شرایطو په رڼا کې داسې اشخاص په کادر کې جذبول چې اکاډمیکو ارزښتونو ته ژمن وي.
2. د مسلک او تخصص په پام کې نیولو سره د پیاوړو او مناسبو اشخاصو انتخابول
3. په تقرر کې دوکتور او ماستر نورو شرایطو ته په پام سره لومړیتوب ورکول
4. په کادر کې د شمولیت لپاره د شفافي پروسې رامنځته کول

**۴- جدول: په راتلونکي پنځه کلونو کې په کرنې پوهنځي کې د نویو څانګو رامنځته کول**

| شماره | نوي رامنځته کیدونکي څانګې | کال |
|---|---|---|
| ۱ | د مالداري څانګه | ۱۳۹۹ |
| ۲ | د جنګلاتو او طبعی سرچینو څانګه | ۱۴۰۰ |
| ۳ | د باغداري او اګرانومي په څانګو کې د شپې پوهنځی | ۱۴۰۰ |

**۵- جدول: په راتلونکو پنځو کلونو کې په بیلابیلو څانګو کې د محصلینو او علمي کادر دغړو احتمالي شمیر.**

| ګڼه | څانګه | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۰ | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۲ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | باغداري | | | | | |
| | استادان | ۶ | ۷ | ۷ | ۷ | ۸ |
| | د دریم ټولګی محصلین | ۴۴ | ۶۰ | ۸۵ | ۸۵ | ۸۵ |
| | د څلورم ټولګی محصلین | ۴۶ | ۴۴ | ۶۰ | ۸۵ | ۸۵ |
| ۲ | اګرانومي | | | | | |
| | استادان | ۸ | ۸ | ۸ | ۸ | ۸ |
| | د دریم ټولګی محصلین | ۲۲ | ۴۴ | ۸۵ | ۸۵ | ۸۵ |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | ځلورم ټولګی محصلین | ۴۰ | ۲۲ | ۴۴ | ۸۵ | ۸۵ |
| ۳ | کرنیز اقتصاد او پراختیا | | | | | |
| | استادان | ۳+۳ | ۶ | ۶ | ۶ | ۶ |
| | د دریم ټولګی محصلین | ۴۰ | ۴۰ | ۸۵ | ۸۵ | ۸۵ |
| | د ځلورم ټولګی محصلین | ۶ | ۴۰ | ۴۰ | ۸۵ | ۸۵ |
| ۴ | د مالداري څانګه | | | | | |
| | استادان | ۴ | ۴ | ۴ | ۵ | ۵ |
| | دریم ټولګي | ۰ | ۰ | ۸۵ | ۸۵ | ۸۵ |
| | ځلورم ټولګي | ۰ | ۰ | ۰ | ۸۵ | ۸۵ |
| ۵ | د ځنګلاتو څانګه | | | | | |
| | استادن | ۰ | ۱ | ۲ | ۳ | ۳ |
| | دریم ټولګي | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۸۵ |
| | ځلورم ټولګي | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۶ | د نباتاتو ژغورنه | | | | | |
| | استادان | ۱ | ۰ | ۲ | ۲ | ۲ |
| | دریم ټولګی | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | ځلورم ټولګی | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۷ | عمومي | | | | | |
| | لومړي ټولګي عمومی | ۲۵۵ | ۳۴۰ | ۴۲۵ | ۴۲۵ | ۵۱۰ |
| | دوهم ټولګي عمومي | ۱۳۹ | ۲۵۵ | ۳۴۰ | ۴۲۵ | ۴۲۵ |

**۶- جدول: په راتلونکي پنځه کلونو کې د کرني پوهنځي په ټولو څانګو کې په مجموعي ډول د استادانو او محصلینو شمیر**

| شماره | کلونه | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۰ | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۲ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | استادان | ۳+۲۱ | ۲۶ | ۲۸ | ۳۰ | ۳۱ |
| ۲ | محصلان | ۴۱۲ | ۶۰۳ | ۶۶۴ | ۶۹۷ | ۷۸۲ |

## ۳. ۲. د علمي کادر د غړو ظرفیت لوړول او د هغوی ترفیعات

په یوه علمي او اکادمیکه اداره کې یواځې د متخصصو او مسلکي اشخاصو شتون د هماغه ادارې د کامیابی لامل ګرځیدلای شي، چې په همدې اساس سره ویلاي شو چې د تجربه لرونکو، مسلکي او متخصصو اشخاصو په نشتون کې یوه اکادمیکه اداره نه شي کولای چې با کیفیته، مؤثر او لازم ښوونیز او څیړنیز خدمتونه وړاندی کړي. نو همدې ټکو ته په پام د کرنې پوهنځی د خپل علمي کادر د غړو د ظرفیتونو دلوړوالی اوپراختیا په منظور د لاندې فرصتونو د برابرولو هڅه کوي:

- د ماستري او دوکتور زده کړو لپاره سکالرشیفونو فرصت برابرول.
- د علمي څیړنو او نورو مسلکي مهارتونو د زده کړې لپاره فیلوشیفونو
- د څینو روزنیزو او تربیوي پروګرامونو لپاره د داخلي او خارجي ورکشافونو
- د زده کړې د معاصرو تخنیکونو په برخه کې د پوهنتون دننه او یا هم د باندې ورکشاپونو

## ۳. ۲ . ۱. د ماستري او دوکتورا زده کړو لپاره سکالرشیفونو پروګرام :

دا چې د کرنې پوهنځی دشته ۲۱ تنو علمي کادر غړو څخه یو تن د دوکتورا زده کړې، ۱۰ تنو د ماستري زده کړې بشپړې کړې او ۲ تنه یې د دوکتورا په زده کړو او ۸ تنه یې د ماستري زده کړو په بشپړولو په باندنیو هیوادونو بوخت دې نو د کرنې پوهنځی به په راتلونکي پنځو کلونو کې هڅه وکړي چې په پوهنځی کې موجودد لیسانس په سویه د علمي کادر غړي او یا هم د اړتیاو له مخې نوي ګمارونکي د علمي کادر غړي د هیواد د ننه او یا هم له هیواد څخه د باندې د ماستري زده کړې لپاره واستوي. او همدارنګه هڅه به وشي تر څو هغه استادانو چې د ماستري په کچه یې زده کړې بشپړې کړي د دوکتورا په کچه د زده کړو د بشپړولو لپاره د سکالرشیفونو د ترلاسه کولو زمینه برابره کړیچی ددې سره به کرنې پوهنځي د کادري غړو ظرفیت لانور هم لوړ شي.

سربیره په دې هڅه به وشي چې د علمي کادر غړو د علمي رتبو د ترفیعات چاري د ۵ جدول سره مطابق په سم ډول سره په مخ یوړل شي .

**۷- جدول: د تحصیلي سویه په اساس د کرنې پوهنځي د راتلونکو پنځو کلنو اټکل په دې ډول دی:**

| ګڼه | | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۰ | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۲ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | لسانس | ۵ | ۷ | ۴ | ۳ | ۲ |
| ۲ | ماسټري | ۱۸ | ۱۸ | ۲۳ | ۲۴ | ۲۶ |
| ۳ | دوکتورا | ۱ | ۱ | ۱ | ۳ | ۳ |

**۷- جدول: په راتلونکي کلونو کې د کرنې پوهنځي د استادانو احتمالی ترفیع**

| ګڼه | | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۰ | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۲ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | پوهیالی | ۶ | ۷ | ۲ | ۲ | ۰ |
| ۳ | پوهنیار | ۱۳ | ۱۲ | ۱۳ | ۶ | ۶ |
| ۴ | پوهنمل | ۵ | ۷ | ۱۱ | ۱۶ | ۱۷ |
| ۵ | پوهندوي | ۰ | ۰ | ۲ | ۶ | ۸ |
| ۶ | پوهنوال | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ |
| ۷ | پوهاند | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |

### ۳. ۲ . ۲. لنډ مهاله روزنيز کورسونه :

د کرنې پوهنځي ټول استادان په ځانګړي توګه هغه غړي چې نوي جذبيږی دې ته اړتيا لري چې په تدريسي ميتودنو باندې يې د پوهيدني کچه لوړه او د تدريس بيلابيل ميتودونه زده کړي نو په همدې اساس د علمي کادر غړو لپاره د ډول ورکشافونو فرصتونو برابرولو هڅه به وشي تر څو د هغوی تدريس کيفت کچه لوړه شي.

همدارنګه د کرنې پوهنځی به هڅه وکړي چې د دغه علمي بنسټ د کادري غړو لپاره د څيړنو د ترسره کولو او د څيړنو په برخه کې د ځينو ميتودونو د زده کړي لپاره د ځينو لنډمهاله فيلوشيپونه د ترلاسه کولو سهولتونه برابرکړي. چې په دې سره به په هيواد کې په نړيوالو معيارونو برابرو څيړنو ترسره کولو لپاره ترويج وشي.

### ۳،۳. د علمي څيړنو ترسره کول

هره ټولنه د ستونزو د حل او پرمختګونو د رامنځته کولو لپاره بايد څيړني ترسره کړي. د څيړنو پواسطه کيدای شي په يوه ټولنه کې شته ستونزو ته د حل يو مناسبه لار پيداشي او پايله کې به هم ټولنه له ستونزو څخه خلاصون ومومي او هم به له نوري نړۍ سره د سيالی جوګه شي. نو څرنګه چې د کرنې پوهنځی د علمي کادر غړي د تدريس ترڅنګ د علمي څيړنو په ترسره کولو هم مکلف دي نو د کرنې پوهنځی د غزني د يو علمي بنسټ په توګه په راتلونکو کلونو کې ژمن دی چې د علمي څيړنو د ترسره کولو او ودې ورکولو لپاره لاندې کړنې ترسره کړي:

1. د د څيړنو لپاره د يو موثر ميکانېزم رامنځته کول
2. د څيړونو د کيفيت د ښه والي لپاره هڅې کول.
3. د څيړنيزو پروژو د پايلو او لاسته راوړنو خپرول .
4. د څيړنې په برخه کې د محصيلينو روزل
5. په نړيوالو څيړنيزو او علمي مجلو کې د څيړنيزو پروژو د پايلو د خپرولو لپاره د خپلو څيړونکو هڅونه
6. د څيړنيزو پروژو له پايلو څخه د خبرتيا په منظور د پوهنتون په ننداريتونونو کې برخه اخستل
7. د ګډو څيړنو د ترسره کولو لپاره هڅونې او مرستې

### ۳. ۴. فوق ليسانس پروګرامونه

په اوس وخت کې د کرنې پوهنځی چې دری بيلابيلي څانګې( باغداري، اګرانومي او کرنيز اقتصاد) لري يواځې د ليسانس په کچه محصلين تربيه کوي، او تر اوسه پوري د فوق ليسانس محصلينو د تربيې لپاره کوم پروګرام نلري ځکه چی تر ۱۴۰۲ کال پوری په پوهنځی کی د اټکل له مخی لوړ رتبه استادان يا دکتورا لرونکی استادان ونه لرو.

ځکه چې په پوهنځي کې د شته استادانو څخه يواځې يو تن د دوکتورا په کچه زده کړي لري، نو داستادانو د علمي کچې په لوړوني سره به هڅه وشي چې په راتلونکو کلونو کې دماستري په کچه د محصلينو روزني په برخه د برنامې رامنځته کولو اجازه د لوړو زده کړو وزارت څخه واخيستل شي.

### ۵،۳. د کریکولم پراختیا

پوهیرو چې د هرې ټولنې غوښتنې د وخت په تېرېدو سره بدلون مومي همداشان د علومو په بیلابیلو برخو کې هم نوي پرمختګونه او بدلونونه رامنځته کېږي. دا بدلونونه کېدای شي په ملي او یا نړیواله کچې رامنځته شي او له بلې خوا د دغو بدلونونو په پایله کې کیدای شي د نویو تحصیلي څانګو د رامنځته کېدلو اړتیا ولیدل شي او یا خو په ځینو حالاتو کې دا اړتیااحساسیږي چې تحصیلي رشتې ډېرې اختصاصي کړل شي او یا هم د ځینو مضامینو کمیدل او یا زیاتیدل او یا د کورسونو په مفرداتو کې ځیني بدلونه مطرح کیدل رامنځته شی. نو په داسي حالتو کې اړینه ده چې تحصیلي پروګرام (کاریکولم) ته د وخت، بازار او نورو ښکېلو خواوو د غوښتنو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره بدلون ورکړل شي او یا تجدید نظر شي.

د کرنې پوهنځی د خپل اړوند علمي پروګرام د مثبت بدلون په موخه په راتلونکو کلونو کې لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د پوهنځی اودیپارتمنتونو په کچه د علمي کادر غړو لپاره د کریکولم د نوي والي او سمون په موخه د لازمو ترینګونو چمتو کول
2. د پوهنتون په همکاری د کریکولم په بیاکتنه او پراختیا کې د متخصصو اشخاصو، فارغانو او کار ګمارنې مراجعو سره مشورې کول.
3. له اړتیا سره سم د پوهنتون د کریکولم کمیټې سره د کریکولم په بیا سمون او انکشاف کې ملتیا
4. د پوهنتون په همکاری له نړیوالو معتبرو پوهنتونونو څخه د نویو چاپ شویو خپرونو او کتابونو ترلاسه کول
5. له کریکولم څخه د مطلوبو موخو د لاسته راوړلو په غرض ارزونه
6. له ټاکل شوي کریکولم سره سم د درسي موادو تهیه او برابرول
7. د کریکولم د پلي کېدو څخه د ډاډ په موخه د اړوندو علمي پروګرامونو څخه راپورونه راټولول.

### ۶،۳. د کیفیت تضمین او اعتبار ورکونه

که څه هم د غزنې پوهنتون تر اوسه پورې په نړیواله او ملي کچه د اعتبار ورکونې پروسې ته نه دی شامل شوی، ولې دغه بنسټ د ټولو علمي او څېړنیزو کړنو په معیاري کولو سره په پلان کې لرې چې په لومړی سر کې په ملي او وروسته د سیمي او نړۍ په کچه اعتبار ترلاسه کړي. نو د کرنې پوهنځی هم د غزنې پوهنتون د یو بنسټ په توګه د خپلو خدماتو د ښه باور ترلاسه کولو په موخه تل هڅه کوي چې په خپلو علمي او څېړنیزو پروګرامونو کې بهتروالی راولې، چې د دغه موخې د تحقق لپاره کرنې پوهنځی په ۱۳۹۷ کال کې د کیفیت تضمین او اعتبار ورکونې کمیټه رامنځته کړه چې دغه کیټه د جوړیدو له پیل څخه تراوسه پورې دکریکولم د سم پلي کیدواو د تدریسي بیلابیلو میتودونو له پلي کیدو څخه څارنه او همدارنګه داستادانو خپل منځې ارزونه ترسره کوي. په راتلونکو کلونو کې د کرنې پوهنځی د ښه باور او اعتبار تر لاسه کولو لپاره لاندې کړنې تر سره کوي:

1. د پوهنتون د پوهنځی د خدماتو کیفیت او درجې لوړول
2. د ښو زده کړو ټولې اسانتیاوې د امکان تر حده برابرول
3. د نظري زده کړو په څنګ کې عملي زده کړو ته اسانتیاوې برابرول
4. په زده کړو کې د تدریس نویو میتودونو څخه ګټه پورته کولو لپاره اسانتیاوې برابرول

5. د پوهنځی او په ټوله کې د پوهنتون د ستراتېژیکو موخو د تحقق لپاره د غزني پوهنتون  د نورو پوهنځیو سره د همغږي رامنځته کول
6. د پورته یادو شوو کړنو د ترسه کیدنې څخه څارنه او ارزونه.

**۳. ۷. د ښوونیزو موادو چمتو والی**

د کرنې پوهنځی په دې هڅه کې دی چې د ښه باور ترلاسه کولو لپاره د کریکولوم له سمون او نوي کولو وروسته د هغوی د مفرداتو مطابق درسي مواد د تدریس نویو میتودنو ته پام سره چمتو کړي. همدارنګه پوهنځی به د درسي موادو د پیاوړتیا په موخه  د علمي کادر غړو پواسطه د تالیفاتو چارو ته خاصه پاملرنه وکړي، چې په دې برخه کې به د هغوی لازیاته هڅونه وکړي او هم به د تالیفاتو لپاره د سرچینو په ډول  استفاده کیدونکو کتابونو ته دلاس رسي اسانتیاوي رامنځته کړي. چې په دې توګه د مناسبو ښوونیزو موادو په تدریس سره به دغه بنسټ وکولای شي چې د اوسني وخت شرایطو او بدلونونه ته په پام سره د ټولنې غوښتنو ته مثبت ځواب ووایي چې په پایله که به د کرنې پوهنځی او  د غزني پوهنتون د لوړې درجې  اعتبار او باور تر لاسه کړي.

# ۴. لوړو زده کړو ته لاسرسی

## ۴. ۱. لوړو زده کړو ته د پراخه لاسرسی پیاوړي کول

زده کړې د یوي ټولني د وګړو یو له اساسي حقوقو څخه ګڼل کیږي، چې له نېکه مرغه د هېواد د اساسي قانون له مخې د لسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې د قانون د حکمونو په پام کې نیولو سره د دولت لخوا د په وړیا توګه وړاندې کیږي. او له هغه څخه پورته لوړې زده کړې ( د ماستري او دوکتورا په کچه زده کړي) د یو لړ لګښتونو په ورکولو سره په هېواد او له هېواد څخه بهر ترسره کولی شي. نو په دې توګه د افغانستان لوړو زده کړو وزارت پدې هڅه کې دی چې د هېواد وګړي یې په بېلابېلو علمي برخو کې لوړو زده کړو ته پراخه لاسرسي ولري. غزني پوهنتون او د کرنې پوهنځی په پراخه توګه لوړو زده کړو ته د لاسرسي په موخه ګڼ شمېر علمي پروګرامونه په بېلا بېلو برخو او وختونو کې ( سهار او له وخته وروسته) پرمخ بیایي او د کرنې پوهنځی په دغه برخه کې د پوهنتون پالیسی تعقیبوی. لوړو زده کړو ته په شفافه توګه د پراخه لاسرسي په موخه پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د کرنیزو علومو په برخه کې د لوړو زده کړو د اهمیت په اړه عامه وګړو ته د عامه پوهاوي په پار هر اړخیز معلومات وړاندې کول
2. د کانکور له لارې په شفافه توګه زده کړو ته د لاسرسي زمینه برابرول
3. له هر ډول توپیر پرته هېوادوالو ته په مساویانه ډول د زده کړو حق ورکول او اسانتیاوې برابرول
4. د وخت او بازار د غوښتنو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره د پوهنتون په تفاهم او همکارۍ د نویو علمي پروګرامونو ایجادول
5. د کرنیزو علومو په برخه کې د ټولنې او اړونده خواوو سره د لاسته راوړنو شریکول.

## ۲،۴. لوړو زده کړو ته د ښځینه ؤ پراخه لاسرسی

دا چې ښځې د ټولنې په بشري ځواک کې له نیمايي څخه زیاته برخه جوړوي او د ټولنې په هر اړخیز پرمختګ کې د نارینه و تر څنګ په پراخه کچه اړوند چارې پرمخ بیایي، اړینه ده چې د لوړو زده کړو په پروګرامونو کې د ښځینه وو ونډه د نارینه وو په څېر یو شانته په پام کې و نیول شوې. د کرنې پوهنځي د غزني پوهنتون د پلان او پالیسی سره سم لوړو زده کړو ته د ښځینه وو د پراخه لاسرسي په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

1. په علمي برنامو کې د جنډر برابروالی په نظر کې نیول
2. ښځینه محصیلینو ته د پوهنځي په علمي پروګرامونو کې ګډون لپاره زمینه برابرول او تشویقول
3. ښځینه محصیلینو ته د لوړو زده کړو ته د تشویق په موخه که چیرته د معیاري ټولګي شمېره پوره کړي، د جلا درسي ټولګیو چمتو کول.
4. په علمي کادر کې د ښځینه استادانو شاملولو ته زمینه برابرول .
5. د پوهنتون په همکارۍ او تفاهم سره ښځینه محصلینو ته د لیلیې او ټرانسپورت اسانتیاووي برابرول.

**۳،۴. د کریډیټ سیستم پیاوړتیا او پلي کول**

محصلینو ته د اسانتیاوو برابرولو او د ښو پایلو لرونکو زده کړو په خاطر د غزني پوهنتون له تاسیس څخه کریدیټ سیستم د دغه پوهنتون له یو معتبرو سیستمونو څخه دی، ځکه چې له یوې خوا محصلین کولای شي له خپل توان سره سم د زده کړو بهیر پرمخ یوسي او له بل پلوه د نظري زده کړو سره په څنګ کې د اړوندو عملي زده کړو له اسانتیاوو څخه هم برخمن کیږي. چې په غزني پوهنتون کې د کریدیټ سیستم په پلي کیدلو کې له لومړیو کلونو څخه تراوسه پوري د پام وړ پرمختګ محسوس شوی دی. دې لپاره چې دغه سیستم نور هم پیاوړي شي د کرنې پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د ستراتیژیک پلان د پلي کیدو په لومړي کال د کریدیټ سیستم د څرنګوالی په اړه له محصلینو، تدریسي مدیریت او کریکولم کمیټې سره جلسي دایرول.
2. نویو شامل شوي محصلینو ته د سمتر په پیل کې د کریدیت سیستم له لایحي او د لوړو زده کړو وزارت له نورو لوایحو او مقرراتو سره د بلدتیا په موخه د ځینو روزنیزو برنامو رامنځته کول.
3. د علمي کادر غړو لپاره د کریدیټ سیستم د ښه پلي کیدول په خاطر د زده کړیزو کورسونو رامنځته کول.
4. د استادانو پواسطه د HEMIS سیستم له لاري په انلاین توګه د کریدیټ سیستم پلي کیدل او له علمي معاونیت سره د دغه سیستم په څارلو کې مرسته کول.
5. د ټرانسکریپټونو د ترتیب په برخه کې د نمرو درجه بندي د فیصدۍ تر څنګ د GPA په سیستم برابرول.

**۴ .۴. د محصیلینو لپاره د خدماتو او اسانتیاوو پیاوړتیا**

د کرنې پوهنځی هڅه کوي تل په خپلو علمي او خدماتي چارو کې محصلینو ته د پام وړ سهولتونه برابر او غوره پایلو په لرلو سره محصلین وروزي. څو پوهنځی د پوهنتون او هیواد په کچه د محصیلینو پاملرنه او رضایت خپل کړي. د خدماتو او سهولتونو په وړاندې کولو سره دغه پوهنځی غواړي چې له یو پلوه په علمي برنامو او پوهنتون کې خپل حیثیت لوړ کړي او له بل پلوه له همدې لارې مادي امکانات پراخه کړي. پوهنځی د غوره خدماتو او اسانتیاوو د پیاوړي کولو په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د پوهنتون په همکاري محصلینو ته له کرهنیزو سیمو، صنعتي پارکونو، حیواني او نباتي څیړنیز فارمونو او داسي نورو ځایونو څخه د لیدني لپاره د علمي سفرونو زمینه برابرول.
2. د محصلینو لپاره سپورتي اسانتیاوې برابرول.
3. د پوهنتون د وېبسایټ او فیس بوک ګروپونو له لارې محصلینو ته پوره معلومات په واک کې ورکول
4. د محصلینو وړاندیزونو او شکایاتو ته لاسرسی.
5. محصلینو ته د عملي مهارتونو د زده کړي د پیاوړتیا په موخه د په فارم کې د نمایشي او څیړنیزو قطعو رامنځته کول.
6. د پوهنتون امکاناتو ته په پام سره د ښځینه محصلینو لپاره د ټرانسپورټ اسانتیاوي رامنځته کول.
7. د محصلینو د علمي ظرفیت لوړاوي په موخه د کتابتون اسانتیاوي رامنځته کول.
8. محصلینو ته د ښې زده کړې لپاره د مناسب چاپېریال رامنځته کول.
9. د زده کړیالانو لپاره د Internship پروګرامونو ترلاسه کول او تنظیمول

## ۵. زیربناوي

### ۵. ۱ ساختماني چارې

دا چې د کرنې پوهنځی د غزنی پوهنتون په علمي چوکاټ کې په ۱۳۸۷کال کې تاسیس شوي چی په لومړي سر کې د غزنی پوهنتون تر ډیره وخته په کرایئ ځایونو کې خپل فعالیتونه په مخ وړل او بیا وروسته په کال ۱۳۹۱ کی د پوهنتون لپاره په ټاکلي ساحه (قلعه جوز) کې د کرنې پوهنځی لپاره تعمیر جوړ او ګټې اخیستنی ته وسپارل شو. چې یاد تعمیر د دوه منزله په دلودلو سره د اته درسي اطاقونو لرونکی ده. په داسي حال کې چې د کرنې پوهنځی په اوسني حالت کې درې فعاله څانګې لري چې هره څانګه یې څلور صنفونه لري او سربیره په دې د راتلونکي پنځو کلونو لپاره د نورو څانګو د فعاله کیدوو پلان هم لري نو د کرنې پوهنځي موجوده درسي اطاقونه د دغه پوهنځی لپاره بسنه نه کوي نو له همدې کبله د کرنې پوهنځی هڅه کوي چې د موجوده تعمیر سره بیره یو بل تعمیر هم د کرنې پوهنځی لپار جوړ شي، ولي له ټولو نه مخکي به د کرنې پوهنځی د پوهنتون په همکاري هڅه وکړي چې اولویتونو ته پام سره لومړی لاندې کړنې ترسره کړي:

- د کرنې پوهنځي د موجوده تعمیر څخه یوازي د کرنی پوهنځی لپاره استفاده کول.
- د کرنې پوهنځي موجوده صنفونه په تدریسي وسایلو د بیلګي په ډول میز، چوکی، پروجیکتور، لاودسپیکر او داسي نورو وسایلو سره مجهز کړي.
- د پوهنځي په کچه د کتابتون لپاره ځانګړي اطاق مشخص کول او په نورو ضروري وسایلو سمبالول.
- د پوهنځی په سطحه د سمینارونو او نور ورکشافونو لپاره د یو ځانګړي اطاق په اړتیا وړ وسایلو سمبالواو عملاً ګټې اخیستي ته اماده کول .
- د پوهنځي د بیلابیلو څانګو د امریتونو د خونو لپاره اړینو وسایلو او امکاناتو اماده کول .
- د استادانو او محصلینو لپاره د دوامداره انټرنیټ اسنتیاوې برابرول.

## ۵. ۲د کرنی پوهنځی د څېړنیز فارم اړوند چاري

### ۵. ۲. ۱. د فارم فعلي وضعیت

د غزني پوهنتون د کرنې پوهنځی څیړنیز فارم ته د دغه پوهنتون د ماستر پلان له مخي ۶ هکتاره (۳۰ جریبه) ځمکه ځانګړي شوي ده. چې دغه ساحه د غزني پوهنتون په شمال ختیځ لوري کې موقیعت لري. د څیړنیز فارم لپاره دغه ځانګړي شوي ساحه زیاتره برخه تر اوسه پوري غیرهمواره (د نباتاتو د کر لپاره اماده نده) او همدارنګه د اوبخور لپاره تر اوسه پوري په مشخص ډول کومه سرچینه نلري، که څه هم په دغه ساحه کې دوه حلقي څاه ګان ایستل شوي دي خو د اوبو ایستلو لپاره تراوسه پوري اماده نه دي. د فارم لپاره د دغه ځانګړي شوي ساحي څخه یواځي ۱۲۳۲ مترمربع ساحه د ناروي موسیسي لخوا هواره شوي ولي د خاورې د ناسموالي او د اوبو د منابعو د نشتون له امله په دغه هواره شوي ساحه کې تر اوسه کوم نبات نه دی کرل شوئ. له دغه هواره شوي ځمکې سربیره یو جریب ځمکه نوري هم هواره شوي چې په دغه هواره شوي ځمکه کې ۶۶۶ د ناکو د لوړ تراکم وني د غزنې ولایت د کرنې ریاست

د باغداري او مالداري د ملي پروګرام (NHLP) دفتر په مرسته کینول شوي دي. چې د هغوی د اوبخور لپاره قطره یي سیستم د طراوات سبز په نوم کرهنیز خصوصي شرکت په همکاري اماده شوی دی.

## د فارم ستونزي

1. د فارم لپاره د اوبو د منابعو نشتون
2. د فارم د اړوندي ساحي د هموارکاري او لیول کاري لپاره د امکاناتو نشتون.
3. د فارم د وسایلو نشتو د بیلګي په ډول تراکتور او د هغه اړوند وسایل.
4. د تخم د کرلو وسایلو ( seed dril) نشتون.
5. اصلاح شوو تخمونو ته نه لاسرسی.
6. د حاصلاتو د راټولو لپاره د ماشین آلاتو نشتون.
7. د فارم لپاره د لومړنیو وسایلو د بیلګي په ډول قیچي، د پیوند اړوند وسایل، رمبی، دواپاش، او داسي نورو نشتون.
8. د فارم لپاره د فني او تخنیکي پرسونل نشتون.
9. د خاورې غیراصلاح والی
10. د فارم د وسایلو د ساتلو لپاره د ځانګړي اطا نشتون.

## د مالداري په برخه کې عمده ستونزي

1. د مالداري فارم لپاره د ځانګړي ساحي نشتوالی کرلو او د
2. د حیواناتو د روزني لپاره د ځای نشتوالی
3. د مسلکي کسانو نشتوالی

### ۵. ۲. ۲. د استادانو او محصلینو د څېړنیزو کړونو د ترسره کوني لپاره د څېړنیز فارم پراختیا

دا چې د کرنې پوهنځی زیاتره څېړنې ساحوي او تجربوي څېړنې دي چې دغه تجربوي څېړنې د کرهنیزفارم په ساحه کې ترسره کیږي او له بل پلوه د کرنې اړوندې کومي څېړنې چې ترسره کیږي باید په یو داسي ساحه کې پلي شي چې د هغوی شرایط د کروندې له شرایطو سره ورته والي ولري نو اړینه ده چې د فارم لپاره ځانګړي شوي ساحه د نباتاتو د کښت د څېړنو د پلي کولو لپاره اماده شي چې په لومړي سره کې باید د فارم لپاره د اوبخور د اوبو منابع اماده شي او بیا له هغه ورسته د ساحي هموار کاري او د خاورې اصلاح صورت ونیسي. نو دې موخي ته درسیدو په پار د کرنې پوهنځی هڅه کوي چې د پوهنتون او نورو همکارو ادارو په مرسته د څېړنیز فارم د فعاله کولو او پراختیا چاري په مخ بوځي. تر څو له یو پلوه د استادانو او محصلینو د څېړنو د ترسره کولو لپار زمینه برابره شي او له بله پلوه به د محصلینو د عملي زده کړو لپاره زمینه برابره شي.

